# خلاصه ده قبیلوي ځایونه

## تحصیل لنډي کوتل

پخوانی اته (۸) قبایلي سیمې د ۲۰۱۸ کال د پنځویشتم (۲۵) آیني ترمیم له مخې په رسمي ډول د خیبر پښتونخوا په صوبه کې ضلعې ګرځول شوې دي. په دې ضلعو کې باجوړ، مومند، اورکزئی، خیبر، کرم، شمالي وزیرستان، جنوبي وزیرستان (بالا) او جنوبي وزیرستان (پایان) شامل دي. برسېره پر دې، شپږ (۶) نورې قبایلي تحصیلونه هم په خپلو متعلقه ضلعو کې په رسمي ډول د تحصیل په توګه شامل شوي دي، چې په دې کې دره آدم خېل (کوهاټ)، حسن خېل (پېښور)، بنو وزیر (بنونو)، بېټني (لکي مروت)، جنډوله (ټانک) او درازنده (ډي آی خان) شامل دي.

د دغو ضلعو او تحصیلونو د باقاعده شاملېدو وروسته، د سیمې د عوامو د ګټو لپاره د خیبر پښتونخوا حکومت د نړیوال بانک سره یوه په نوم لاسلیک کړه. په دې ضلعو او تحصیلونو کې ستر دفترونه جوړېږي، چې پکې به د ضلعې او تحصیل د **WB KP-RIISP** معاهده د انتظامي افسرانو تر څنګ د نورو اړوندو محاکمو لپاره هم دفتري اسانتیاوې برابرې شي.

د دغو دفترو تر څنګ، د اوسېدونکو لپاره هم مناسب ځایونه جوړ یا ښه کړل شي، ترڅو د سیمې د عوامو لپاره سهولتونه او اسانتیاوې برابرې شي. دا کار ډاډ ورکوي چې اړوند افسران هر وخت او په اسانۍ سره د خلکو سره اړیکه ونیسي.

دا عالمی بنک سره شوی دا معایده د قبایلي علاقو د لاس کالیزی ترقی کوششونو یعنی Tribal Decade Strategy 2020-2030 سره هم برابر ده، چې په پاکستان کې په تاریخي توګه پس مانده ضم شوی ضلعي مضبوطی کړے شي، او خصوصي توګه باندے کمزوري طبقي خصوصاً زنانه ته ترقی او تحفظ ملاؤ شي.

دا WB KPRIISP معاهدې لاندې د خیبر ضلعي د تحصیل لنډي کوتل هم په منصوبه کې شامل دی. د لنډي کوتل موجوده تحصیل د ودانۍ په ډېر خراب حالت کې ده او د عوامو لپاره پوره سهولتونه نه برابروي. له همدې امله، پلان شوی چې په موجوده تحصیل احاطه کې یو درې چتېزه ودانۍ جوړه شي، ترڅو د خلکو لپاره مناسب اسانتیاوې برابرې شي.

دا عمارت به د موجوده (NADRA/CFC) او ورسره په خالي میدان کې جوړه ولی شي. چې دې عمارت کې به د انتظامي افسرانو نه علاوه د عوامو د مفاد لپاره د خدمت مرکز یاني (Service Delivery) او (NADRA/CFC) دپاره نوي عمارت او تحصیل لنډي کوتل کې به د هر یو طبقې پوره پوره خیال ساتل شی ، په دی په دې عمارت کې به د معزورانو او بوډاګانوں خلکو دپاره د خاتو لار، تشناب (Washrooms) د زنانہ دپاره جدا ځای، جدا تشناب (Washrooms) ، د زنانہ دپاره جدا د ناستې او کینټین (Canteen) ، جدا د مونځ دپاره کمره، د ماشومانو د خیال ساتلو دپاره جدا کمره هم جوړه ولی شي ..په دې عمارت کې به د بینک دپاره هم یو کمره مختص کېږي، چې خلکو ته د پیسو جمع کولو اسانه وي ـ د مختلفو محکمو دپاره هم ګنجایش ساتلے شوی دے، چې عوامو ته د یوه ځای لاندې سهولتونه ورکړل شي.

د نارینه دپاره تشناب (Washrooms) ، کینټین (Canteen) ، د مونځ دپاره کمره، د عوامو دپاره د دې لارې خودو ډیسک هم شامل دی. د دې عمارت دپاسه به شمسي شیشې هم لګولے شي، چې په دفترې معاملاتو کې کمی نه رازی .

د لنډي کوتل خلق ماحولیاتی او سماجي مسائیلو سره هر وخت مخ وي. لویه مسله د سکلو صافه اوبه (Clean Drinking Water) ، په هوا کې الودګي د حد نه سېوا والے دے. د دې نه علاوه خشکه سالي او د موسمي بدلېدلي، چې له هغې وجې اچانک خطرناک باران او سېلابي صورت حال هم شامل دی. د زنانہ د تعلیم شرح 12.66 فیصده ډېره زیاته کمه ده. د (KP-RIISP, WB) اهلکاران د متلعقہ محکمو ں او د انتظامي افسرانو نه علاوه د علاقے د مشرانوں سره هم وخت په وخت ناستې کوي، او د هغوي له طرفه مثبت سفارشونہ هم شاملیګي. د ماحول صافه سُتهره ساتلو دپاره د کچرې او اوبہ د نکاسې بندوبست او د امارت په چار چاپېره د اونو بوټي لګول هم شامل دي. د عالمی بینک د هدایتونو لاندې په مکمل توګه په دې ټولو خبرو اترو عمل کیږي او د عمارت د جوړه ولو باندے عمل درامد دپاره (ESF, ESMP, GRM) وغیره جوړ شوي دي، چې عوامو ته هېڅ قسم تکلیف نه وي. د دې نه علاوه د اوسېدو دپاره یو علحیده درے چتېزه عمارت، چې هغه کې به 12/دولس کورونه وي، هم جوړه ولی شي. موجوده تحصیل پخوانے عمارت به هم ښه کولے شی ،جرګہ هال او نورے پخوانے د کار آبادیانے به هم ښه کولے شي.

ټهیکدار او هغه عمله ته به مکمل هدایت ورکړل کیږي ، چې په دې اصولو عمل کوی. متعلقہ محکمےC&W، PIU او د هغوي کانسلټنټ به هم د دې خبرے خیال ساتي، چې عوامو ته مکمل سهولتونه ورکړلے شي.